د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

عاجل ☐ عادي ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د متحدالمآل ګڼه: ۳۳

نېټه: ۱۴۴۴/۴/۲۸ هق

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/۴/۲۱هق چي د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د عقرب مياشتې د پنځه ويشتمي (۲۵) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضاة محترم الشيخ عبدالحکيم "الحقاني" صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چي د ياد مجلس څلورمه موضوع داسي وه:

((د افغانستان اسلامي امارت په محاکموکي د کارونو د ښه تنظيم لپاره د سترې محکمې د معاونيت لخوا د پلان او پالسۍ رياست لخوا همدارنګه د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست لخوا د اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام هدايات او د سترې محکمې د عالي شورا هدايات په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته استول کيږي او ددغه متحدالمآلونو په عملي کولو سره تر ډيره حده مشکل حل دی، د دغه متحدالمآلونو د تعقيب په باره کي چي څرنګه ترتيب وشي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د ذکر شوي موضوع په اړه د تصويب نمبر(۱۴) مورخ ۱۴۴۴/۴/۲۱هق د څلورمي پريکړې په اساس داسي هدايت وکړ: ((د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست ته دنده سپارل کيږي تر څو د محاکمو متعلق د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام هدايات، د سترې محکمې د محترم مقام هدايات، د سترې محکمې د معاونيتونو هدايات، د سترې محکمې د عالي شورا هدايات او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست او نورو رياستونو تر دا وخته صادر شوي متحدالمآلونه دي په يوه يوه وکوري او جدي دي تعقيب کړي چي عملي سوي دي او که نه.

په راروان وخت کي دي پورته ذکر شوي هدايات او متحدالمآلونه د صدور سره سم تعقيب کړي د عملي کيدلو او نه عملي کيدلو مواضع او علل دي معلوم کړي او وخت په وخت دي راپور د خپل نظر سره يو ځای د سترې محکمې د محترم مقام سره شريک کړي.))

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
ټيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af